


د مولانا سعید افغاني : آزاده ، ټولنیزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# مجیب الرحمن « خطیبي »

**تاریخ نشر: 16 جون 2026 میلادی**

# نصیحت

د دنیا په رنګینو مه غولېږه، بې پروا شه
ژوند څه کړی، په فکر د عقبا شه

د نفس د وسوسو نه ځان لرې وساته تل
د زړه په پاکه نیت کې، په حیا شه

چې تیاره د ګناه مخ درته ونیسي کله
د سحر په اوښکو ډک، په دعا شه

مال و زر د دې دنیا سیوری د باد دی
د تلپاتې نېکو عملونو په بقا شه

که د مینې او اخلاص رښتینی خوند غواړې
له جفا او له کینې نه صفا شه

څاڅکی درکول کیږي خو سمندر درته اخلي
د ژوند هرې لحظې ته ته رضا شه

هره ساه چې درکول شي امانت دی له ازله
د امانت په ادا کولو، با وفا شه

***

مجیب الرحمن « خطیبي »

بازګشت به صفحه اصلی – [www.said-afghani.org](http://www.said-afghani.org)